شریعت
SHARIAT weekly
اوونیزه
پـه اوونی کـي دوه ځله خپریږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کـال ٢٤ مـه ګـڼـه پرله پسي(٤٠٤)یکشنبه د١٤٢٢هـ ق کال د محرم الحرام(٧)
د١٣٨٠هـ ش کـال د وری دمـیـاشـتي(١٢)د٢٠٠١مـیـلادي کـال د اپریل (١)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي ! ، همدا (عدل) دیر نژدي دی - تقوا(پرهیزګـاری) ته .

(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

ا.ا.ا نمي خواهد در امور دیگران مداخله نماید

مداخله روسیه، هند و سایر حلقات مغرض باعث ادامه جنگ در افغانستان گردیده است

کابل - باختر : محترم ملا عبدالسلام ضعیف سفیر امارت اسلامي در پاکستان با محترم شهرت قابلوف سفیر ازبکستان در پاکستان و مشاور خاص رئیس جمهور کشور قرغزستان در شهر اسلام اباد طور جداګانه ملاقات بعمل آوردند .

درملاقات با محترم شهرت قابلوف سفیر ازبکستان در پاکستان محترم ملا عبدالسلام ضعیف پالیسي امارت اسلامي را در قبال مسایل ملي و منطقوي بیان داشته افزود : امارت اسلامي افغانستان نمیخواهد درامور داخلي کشور هاي دیګر مداخله نماید اما مداخله کشور هاي روسیه هند، و سایر حلقات مغرض در امور داخلي افغانستان باعث ادامه جنګ خونریزي و تخریب و ویراني کشور ما ګردیده و روسها تلاش مي ورزند تا با اتهامات بي مورد و بي اساس خود علیه امارت اسلامي عساکر خویش را در آسیاي مرکزي جابجا نموده و یك بار دیګر تسلط خود را درین منطقه تحکیم بخشند

در جریان ملاقات سفراي امارت اسلامي و ازبکستان در پاکستان موافقه نمودند که تمام مسایل را از طریق مذاکره و مفاهمه و تماسهاي نزدیك حل و فصل نمایند و بخاطر حل مسایل مربوط با یك دیګر در تماس باشند درین ملاقات محترم محمد سهیل شاهین سکرتر دوم سفارت افغانستان در اسلام آباد نیز حاضر بود.

طي جلسهء وضعیت مهاجرین بررسي ګردید

کابل-باختر : تحت ریاست محترم مولوي عبدالکبیر معاون اقتصادي ریاست الوزرا قبل از ظهر دیروز جلسه به منظور بررسي وضع مهاجرین و پیشبرد بهتر امور اداري و خدماتي تدویر یافت .

دفتر مطبوعاتي ریاست الوزراء خبر میدهد در این جلسه که به اشتراك محترم ملا عبدالرزاق اخند وزیر امور داخله محترم ملا محمد عباس اخند وزیر صحت عامه، محترم ملا امیر خان متقي وزیر معارف، محترم مولانا عبدالرزاق وزیر تجارت، محترم مولوي ص ٤

د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کی :

له ایران سره

د هلمند داوړو په هکله

د ١٣٥١ کال دتړون احترام کوو

د هـلـمـند سـیند د وچـکـالی په اثـر وچ دی

ایـرانی پـلاوی په خپـلـه د اوبو کمـیـټـت شـارلی دی

ایران په افغـانانو بـاندی فشـار اچـولو لـپاره پـلمی لټوی

کابل - باختر : د هلمند دسیند د اوبو په باب د ایرانی مقاماتو د وروستیو څرګندونو په ځواب کی د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت لیک . د ١٤٢٢ هجری قمری کال د محرم الحرام د میاشتی ٦ نیټه د ١٣٨٠ هجری لمریز کال د وری یا حمل د میاشتی ١١ نیټه او د دوه زره یو میـلادی کـال د مارچ د میاشتی ٣١ نیټه بسم...

په دی وروستیو وختو کی د ایران د اسلامی جمهوریت مقاماتو د دله بیږو اطلاعاتو د وسایلو له لاری د افغانستان د اسلامی امارت پر خلاف بی بنسټه اعتراضونه کړیدی چی ګنی اسلامی امارت د ایران په مخ د هلمند د سیند اوبه بندی کړیدی.

په دی باب پخوا یو سخت لیک هم ایران د بهرنیو چارو وزارت د مقاماتو لخوا افغانی لوری ته سپارل شوی و چی له ٤مخ

په کابل کی :

پولیسو اکادمی ته د شمولیت آزموینه واخستل شوه

کابل - باختر : د کورنیو چارو وزارت د پولیسو په اکادمی کی د شمولیت په خاطر د هیواد د مرکزاو ولایتونو د مدرسو د دولسمو ټولګیو د فارغانو متفرقه ازموینه پرون د پولیسو اکادمی د قوماندانی په انګر کی واخستل شوه . د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند پداسی حال کی چی د جنایی جرمونو ٤ مخ

کابل چاریانوته :

د دیجتل تیلفون نمری په راتلونکی اونی کی ویشل کیږي

کابل - باختر : د دیجتل تیلفون د دستګاه د درولو او مونتاژ کار په سلو کی نوی پر مخ تللی دی او د هغی د نمرو ویش په راتلونکی اونی کی پیل کیږی. د دیجتل تیلفون چی هره نمره بی تریوال صلاحیت لری د هغه د دستګاه د درولو او ٤ مخ

در کابل

محفل ادبي مشاعره بهاري انعقاد پذیرفت

کابل - باختر: محفل ادبي مشاعره بهاري به اشتراك تعدادي زیادي از ادبا، شعرا و نویسندګان مرکز و ولایات کشور دیروز در تالار رادیو صداي شریعت براه انداخته شد.

در این محفل بزرګ ادبي مشاعره محترم مولوي قدرت الله جمال وزیر اطلاعات و کلتور، محترم ص ٤

په بی ځایه شویو کورنیو باندی مرستی وویشل شوی

هرات - باختر: د کانادا د همدردی موسسی د هرات په ولایت کی په مهاجرینو باندی یوه اندازه غنم ویشلی دی. په دی مرسته کی دولس زره ټنه غنم شته چی ټوله به یی یو سلو اته شپیته ملیونه افغانی کیږی

٤ مخ

په بغلان کی :

د ملخانو پر ضد مجادله پیل شوه

بغلان - باختر : دبغلان ولایت د کرنی د اداری لخوا د دغه ولایت په بیلا بیلو سیمو کی د نهه زره هکتاره ځمکی په ساحه کی د ملخانو پر خلاف مجادله پیل شویده .

د کرنی د نهه زره هکتاره ځمکی ساحه چی د نوی او ٤ مخ

در اکادمي علوم ا.ا.ا :

کنفرانس علمي دایر ګردید

کابل - باختر : کنفرانس علمي تحت عنوان اعجاز جدول ارقام و اعداد ایت الکرسی شریف از دیدګاه ریاضي فلسفي دیروز دراکادمي علوم دایر ګردید.

یك منبع مربوط اکادمي علوم امارت اسلامي افغانستان ص ٤

در بغلان :

سنګ تهداب پل سر بند نهر قبارق دندغوري ګذاشته شد

بغلان - باختر : سنګ تهداب پل و سر بند نهر قبارق دندغوري ولایت بغلان طي مراسمي ګذاشته شد.

در مراسم که بهمین منظور به اشتراك بعضي از مسئولین اماراتي ولایت بغلان و مردم محل دایر ګردیده بود، محترم ملا عبدالرزاق نقشبندي معاون ولایت بغلان برنامه هاي امارت اسلامي را در عرصه عمران و بازسازي کشور ص ٤

د مخالفینو د خپل منځی جګړو په ترځ کی :

قـومـانـدان حمـید الله ووژل شـو

کابل - باختر : د هغو سختو جګړو له امله چی د مخالفینو د قوماندانانو ترمنځ د بغلان ولایت د اندراب ولسوالی په مربوطاتو کی وشوی قوماندان حمید الله او د هغه وسله وال افراد وژل شویدی.

د باختر اطلاعاتی آژانس د باوری خبرځایونو له خولی خبر راکړ د مخالفینو د قوماندانانو تر منځ د بی باوری ٤ مخ

د مخالفینو په منځ کی یوه بله ډلګی راجوړیدونکی ده

کابل - باختر: له کمونیستو جنرالانو سره د مسعود د نوی اتحاد په رامنځته کیدو سره د شمال ائتلاف د سرمدارانو تر منځ نوی ائتلاف د جوړیدو په حال کی دي. د باوری خبر ځایونو له خولی مسعود په هغه نوی اتحاد سره چی له کمونیستی جنرالانو یعنی نبی عظیمی او اصف دلاور سره یی کړیدی په دغه ائتلاف کی د زیاترو وسله والو کسانو د کرکی او نفرت سبب شویدی او بر سیره ٤ مخ

د افغاني قضیي یوه څیړنه ص ٢

د هنر او ادب نړي ص ٣

لوري او ژوري ص ٣

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

وایی طالبان د جهاد په وخت کی چیری و ؟

د خدا ناترسو سیاسی لیډرانو لویه وسله دروغ او بهتان وی، هغه لیډران چی نه له الله تعالی څخه ویریږی او نه له خلکو حیا کوی په دروغ ویلو، بهتان تړلو او هیڅ ګناه صرفه نه کوی؛ په یو حدیث مبارک کی راغلی دی : « چی حیا نه کوی، نو څه چی غواړی ! هغه وکړه » دا د ا.ا.ا مخالفین هم یو وخت د مقدس اسلامی جهاد مشران وو، د افغانستان مومن او مجاهد ولس په دوی باندی له کچی پورته اعتماد کړی و، خپلی ویني او خپل سرونه یی د الله تعالی په لار کی د قربانی لپاره د دوی په واک کی ورکړی و، د دوی هم ټول شعارونه اسلامی و او د اسلامی نظام د جوړولو په دعوه کی یی ډیری زبانی او قلمی مسابقی سره کولی خو څینو بدبختو سره له هغه د جهاد په سنګرونو کی د دښمن تر وژلو زیات برادر کشی ته کلک انتظام کړی و هغه وخت چی د ریښتینی اسلامی نظام لپاره د ریښتینی وحدت او یووالی ضرورت و په هغه هکله یی د افغانی او اسلامی نړی د علماي کرامو او مخلصو مسلمانانو ډیری ستری ستونزی او هلی ځلی په لغتو ووهلی، ډیر اتحادونه یی تر خپلو ښځو غوښتنو ځار کړل، آن چی د یو حقیقی اتحاد لپاره د پیښور په اشرفیه مدرسه کی په قرآن مجید او بخاری شریف د لاس ایښودلو په مهال لوړی او قسمونه او د کعبی مبارکی په منځ کی د رمضان المبارک د نیمی شپی تعهدونه یی ټول د ځان غوښتنی ، شیطان لعین او نفس اماره بالسو، په حکم په ډیره سپین سترګی او بی باکی، په ډیره ګستاخی او ناروا جرأت سره تر پښو لاندی کړل، (یا حسرة، علی العباد) بیا چی کله د کمونستانو د ماتي او ٢ مخ

په عراق کی

د یوي چاودني له امله ٨ تنه ماشومان شهیدان شول

تریوالي خبري سرچیني - باختر: د هغه توغندي د چاودني له امله ورمه ورغ اته تنه ماشومان شهیدان شول چی لس کاله مخکی په عراق باندی توغول شوی و. دعراق رادیو دخبر له مخي دغه ماشومان له پنځه کلني څخه تر اته کلني پوری وه چی د بصری په ښار کی د فوټبال په ډګر کی د لوبی په وخت کی شهیدان شول چی له دي جملي څخه دری تنه ماشومان له یو بل سره وروڼه و . ددغو ماشومانو د جنازو د ښخولو په مراسمو ٤ مخ

مظاهرات ضد صهیونیستي جریان دارد

منابع خبري جهان : مظاهرات ضد صهیونستي درفلسطین اشغالي جریان دارد در نتیجه برخورد که میان مجاهدین فلسطیني و اشغالګران صهیونست در جریان این مظاهرات صورت ګرفت شش تن از مجاهدین فلسطیني شهید و حدود دو صد تن دیګر جراحت برداشتند.

این مظاهرات که در ص ٤

سلوبودان میلو سوویچ مورد حمله قرار ګرفت

منابع خبري جهان : پولیس یوګوسلاویا بر منزل سلوبودان میلو سوویچ رئیس جمهور سابق آنکشور حمله نمودند ګزارشها در مورد وضع کنوني وي ضد و نقیض میباشد.

حمله زماني صورت ګرفت که حامیان سلوبودان میلو سوویچ به اطراف منزل نامبرده اجتماع کرده بودند. این حمله صبح دیروز پس از آن رخداد که میلو سوویچ در مقابل منزل خود حاضر ګردیده و به طرفدارانش ګفت که حال او خوب است قبل از این ګفته میشد نامبرده توقیف ص ٤

رئیس جمهور مصر در پاریس با همتاي فرانسوي خود ملاقات کرد

حسني مبارك رئیس جمهور مصر پري شب با ژاك شیراك رئیس جمهور فرانسه در پاریس ملاقات و مذاکرات انجام داد.

طرفین درین مذاکرات مسایل مورد علاقه را مورد بحث قرار داد و خواستار ختم خشونت ها درشرق میانه ګردیدند . در مذاکرات حسني مبارك ګفت ص ٤

رائې د هیواد د ثبات او استحکام لپاره هڅه وکړو، نه د ګډوډی لپاره

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱توزیع و شکایات :۶۲۸۵۹
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

مقدس جهاد د بریالیتوب شیبې رانږدې شوی او په پیښور کی د حزبونو اُستازو د حکومت جوړولو خبری اتری کولی، په عین وخت یوه انجنیر په جبل السراج کی له یوې ډلی کمونستانو سره او بل انجنیر په چار آسیاب کی له بلې ډلی کمونستانو سره تعهد او ائتلاف وکړ، یوه هم نه د هغو لکونو شهیدانو کرامو «رح» له وینو څخه شرم او حیا وکړه او نه یې د خپلو مجاهدو او میړنیو مومنو افغانانو د غیرت او ننګ پروا وکړه چی د دوی له دښمنانو سره په یوه غولی کیناستل، د کابل په ښار او حکومتی دفترونو کی د واک تر لاسه کولو لپاره یو د بل په ضد له شرمه او ناروا ډکی ډغری پیل کړی. له دوو دریو ورځوخونړیو جګړو وروسته د چار آسیاب ائتلاف ماته وخوړه او له ښار نه وشړل شول، د پیښور د غونډو له پریکړو نه مخکی د جبل السراج ائتلاف د ډیرو وینو تویولو په بیه واک تر لاسه کړ،

له څو میاشتو وروسته د چار آسیاب ائتلاف د حزب وحدت په ملګرتیا د غچ اخستلو لپاره د کابل په مظلومو او بیوزلو مسلمانانو باندی د راته توغندی او رول پیل کړل او د جبل السراج ائتلاف هم د سیاف په ملګرتیا په همدغه کابل خوار کی باندی پیل وکړ او نږدی څلور کاله یې په کابل کی هغه قتلونه او فجایع وکړی چی ټول افغانان یې په جزئیاتو پوره خبر دی، همدغه رنګه د هیواد په لویو لاروکی د پاټکیانو څورونی او له شرمه ډک کړه وړه او هم د هیواد په ولایتونو کی د بې دینه ټوپکیانو فجایع او ظلمونه روان و چی مظلومو مګر غیرتمنو او مومنو افغانانو شپه او ورځ د دغو ظالمانو له لاسه الله تعالی ته شکایتونه، ژړاګانې، زاری او فریادونه کول. د هغو په ځواب کی الله غیاث المستغثین «ج» د طالبانو اسلامی تحریک د افغان ولس له منځه راپورته کړ. د افغان مجاهد ولس په کلک ملاتړ یې شریر ټوپکیان خلع سلاح او مخلص مجاهدین او قوماندانان کلک ورسره ودریدل او په دغه ترتیب سره یې هیواد له تجزیې نه او هیوادوال له شر او فساد نه وژغورل، د هیوا د پلازمینه یې تصفیه، اسلامی امارت یې اعلان او اسلامی شریعت یې نافذ کړ. د جبل السراج ائتلاف چی پرچمی او ستمي کمونیستان په کی زیات و له روسانو سره یې په بنکاره معامله پیل کړه او لا اوس هم د هیواد په شمال ختیځ کی د روس، ایران او هند په مالی او نظامی مرستو د اسلامی نظام، اسلامی شریعت او اسلامی امارت په ضد جنګیږی د دوی د ټوپکیانو قومانده اوس بر الا د کمونیستو جنرالانو په لاس کی ده او ځانونه لا اوس هم مجاهدین بولی، د حدیثو پروفیسور سیاف لا بیا هم د خپلو خپلوانو په سترګو کی خاوری اچوی او وایی د جهاد په تاوده سنګر کی یم. انا لله و انا ... په دغو کیسو خو ټول خبریو مګر موږ له الله تعالی څخه لری د بیګانه لیډرانو د قول او عمل توپیر په ګوته کول غوښتل، د چارآسیاب د ائتلاف مشر انجنیر حکمتیار د تهران له سنګر نه د ا.ا.ا په خلاف تبلیغات کوی، طرحی او د سیمی جوړوی، دده طرحی، د روم، بن، قبرس او پیښور د نویو شوراګانو له طرحو سره که څه هم په ظاهره توپیر لری خو موخه او بنسټ یې یو دی هغه دا چی دغه ټولی طرحی د موجوده اسلامی نظام او اسلامی شریعت په ضد دی، ټول هڅه کوی چی دغه شرعی نظام له منځه یوسی لا سمح الله.

ډیره د خواښی خبره خو دا ده چی حکمتیار وایی «طالبان» د جهاد په وختونو کی چیری و؟ دی په داسی حال کی دا خبره کوی چی ښه خبر دی او پوهیږی چی د اسلامی امارت د اکثرو مشرانو د بدن غړی د اسلامی جهاد په تاوده سنګر کی شهیدان شوی دی، نه د جبل السراج او چارآسیاب په ناروا جګړو کی. خو افترا ء د لیډری د خاصیت په غوښتنه دا خبره کوی. دی دا هم وایی چی «طالبان» نصیر الله بابر جوړ کړی دی سبحانک هذا بهتان عظیم.

موږ وایو چی که د نصیر الله بابر خبره د کاڼی کرښه وی نو هغه خو تر هر څه د مخه ویلی دی چی ګلبدین، ربانی مسعود او ټوله ډله یې ما تربښنګ کړی ده او د پیښور په بالاحصار کی می تنظیم کړی ده... نو بیا ولی حکمتیار په دغه خبره شرمیږی؟ قویل لهم مما یفترون.

بله خبره دا ده چی د طالبانو اسلامی تحریک د هیواد په پولو کی دننه راپورته شوی دی نصیر الله بابر که څه جوړ کړی وی رښتیا به یې د پیښور په بالاحصار کی جوړ کړی وی، مګر زموږ د هیواد په هیڅ یوه سیمه کی هم نه نصیر الله بابر او نه بل بابر پل ایښی دی،

حکمتیار که رښتیا د بابر په لاس جوړ شوی وی نو بیا څرنګه د جهاد د موسس دعوه کوی او د امریکا غږ د یوه اوریدونکی په ځواب کی یې د مرکی په مهال بد رد وویل د جهاد موسسین خو علمای کرام دی چی د ترکی د کودتا په سبایی په هیواد کی پاڅونو نه پیل کړل او تر څو چی حکمتیار خبریده د کمونیزم ډیری ځالی یې ورانی کړی وی، بیا چی د ۱۳۵۸ په پسرلی کی جهاد پیل کیده نو د خوست په تانو باندی لومړی برغل د سپیڅلو طالبانو و او لومړی پاکی وینی د دوی وی چی د الله تعالی په لاره کی توییې شوی. رحمة الله تعالی علیهم اجمعین

د افغاني قضیې یوه څیړنه

(۱)

حفیظ الله

مخکې له دې چې دافغانستان داوسنی کړکیچ دحل لاری وڅیړو په کار ده چی لومړی ددی ستونزی مختلف اړخونه او ابعاد وڅیړو. دا ستونزه او س دوه اړخه لری: یو بهرنی او بل کورنی

الف :- دکړکیچ بهرنی اړخ :

دشوروی تر سقوط وروسته غرب او س اسلام ته خپل دلومړی درجه دښمن په سترګه ګوری او هرچیری چی اسلامی تحریک یا غږ را پورته کیږی دوی دهغه په وړاندی شدید عکس العمل ښیی او څپی یې. دملګرو ملتو مؤسسه دهمدغو غیر اسلامی هیوادو په لاس کی ده او هر هغه څه کوی چی دوی یې ورته وایی.

دشوروی تر سقوط وروسته اوس نړی یو قطبی ده او دامریکا تلاش دادی چی روسیه بیرته بیا یو طاقت نشی نو ځکه د خپل تخنیک او پیسو په زور کوښښ کوی چی د روسیې اقتصادی او ټولنیز جوړښت ترخپل اغیز لاندی کړی. خو داکار دوی عجالتاً پرته د روسیې دحکومت له حمایته نشی کولای، دروسیې حکومت هم دخپلی بقا او دتاریخ له دې سختی مرحلی دتیریدو لپاره دامریکا مادی مرستو ته سخت اړ دی او فکر کوی چی ګوندی دامریکا په مرسته ژر له دې بحران څخه ووزی او بیرته خپل تللی برم لاسته ورووړی. په دې ډول دا دواړه هیوادونه یو او بل ته اړدی او په کوچنیو مسایلو نه سره خپه کیږی او یو بل ته تیریږی، مثلاً روسیې په پخوانی یوګوسلاویا کی دامریکا دنقشی او برلاسی تریخ غرپ تیر کړ او په ناټو کی یې دشرقی یورپ د هیوادو جتی دلتویا، لتوانیا او استونیا دورګډیدو پر پلان چی دروسیې زړه ته یو تیره خنجر دی سترګی پټی کړی.

آسیا او افریقا خو یې هسی هم غرب ته وراېله کړی دی. امریکا هم د چیچنیا په موضوع کی پر خپلو ټولو اصولو پښې کیښودی او په مرکزی آسیا کی د روسیې دنفوذ بیا را ژوندی کیدو ته په ړندو سترګو ګوری. که څه هم دا دواړه پخوانی سر سخت دښمنان یو د بل په عزایمو پوه دی خو پخپلو منځو کی تفاهم دخپلو اوږد مهالو اهدافو لپاره ضروری ګڼی.

زموږ په ګاونډ کی اوس هم روسیه په لویه سطحه زموږ شمالی ګاونډی ده او دتاجکستان په شمول ډیر هیوادونه یې اوس هم اقمار دی. روسیه او دمرکزی آسیا زیاتره هیوادونه دپخوانیو کمونیستانو په لاس کی دی. دوی که په خپل منځ کی هر څنګه اختلاف ولری خو عقیدوی او فکری تهدید ته بیا سره ملګری دی. دمرکزی آسیا د هیوادو خلک ټول مسلمانان او ګاونډیان یې هم مسلمانان دی او دروسیې په فدراسیون کی اوس هم دچیچنیا او انګشتیا په شان ډیر مسلمانان اوسیږی نو ځکه ددی هیوادو حکومتونه اسلام خپل اقتدار ته بالقوه تهدید ګڼی او له هغه څخه ویریږی. دوی سره له دې چی دغرب خصوصاً د امریکا صنعت ته دخپلو هیوادو د ودی او پر روسیې د اتکا، دکمولو په خاطر ډیر اړدی خو د هغو له ډیموکراسی څخه هم د اسلام په شان ویره لری. دوی اسلام او ډیموکراسی دواړه دخپل مطلق العنان اقتدار دښمنان ګڼی تر څکه دادی بیرته روسیې ته کرار کرار ورنږدې کیږی.

ایران زموږ بل ګاونډی دی چی متأسفانه هیڅ وخت یې په افغانستان کی دمداخلی فکر له سره ندی ویستلی. پر دوی له اسلامه دخپل خاص مذهب رنګ ډیر غالب او دخپلو ګاونډیانو سره د سیمه ګاونډیتوب پر ځای یې د نفوذ غوښتونکو دی. د ساړه جنګ په ختمیدو سره دلویو قدرتونو کشمکش په سیمه ییزو جنګونو او رقابتونو بدل شو. زموږ په سیمه کی دشوروی او امریکا پر ځای اوس دسیمې خپل هیوادونه په رقابت کی دی. پاکستان په اقتصاد مضبوط هیواد ندی، روسیه هم پخپلو جنجالو اخته ده او دمرکزی آسیا نوی آزاد شوی هیوادونه لا پخپلو پښو نه دی دریدلی نو ... نو اوس یوازی ایران ته چی په سیمه کی بهای او نسبتاً د داخلی استقرار خښتن هیواد دی پاتی دی. روسیه او هندوستان هم په سیمه کی د امریکا دنفوذ دمخنیوی لپاره د ایران ملګری او دهغه له بهایی څخه یې لاره کی استفاده کوی. دغو ډیرو هیوادو په سیمه کی یو خاص کمپ جوړ کړی دی او پخپل ګاونډ کی پر ورو هیوادو د تسلط په کار کی ملګری دی. حتی د چیچنیا په عظیمه تراژیدی کی چی نه یوازی دمسلمانانو بلکی دټولی نړی انسانی ضمیر نا آرام او جریحه دار شو، ایران په دې برخه کی کوم جدی عکس العمل ونه ښود بلکی بر عکس د ایران د بهرنیو چارو وزیر (کمال خرازی) د روسیې دخاوری تمامیت محترم وګڼاو او هغه ته یې هرګوابن وغانده. ایران دامریکا په مقابل کی په مرکزی آسیا کی د روسیې دنفوذ دبیا خپریدلو ملاتړ کوی. په افغانستان کی هم، روسیه، ایران او هندوستان سره ملګری او داسلامی امارت ضد قواوو ته علنی مرستی رسوی چی د دوی په اصطلاح په سیمه کی د امریکا او پاکستان دنفوذ مخه ونیسی.

ایران دمرکزی اسیا د هیوادو پر لویو بکرو ذخایرو د تسلط لپاره د ترکیې او پاکستان سره په شدید رقابت کی دی. دمرکزی آسیا هیوادونه یې له تاجکستانه ټول ترک نژاده دی. او غواړی چی له ترکیې سره ښه روابط ولری. له بلی خوا ترکیه دغرب دروازه او یو غیر مذهبی هیواد دی چی ددی هیوادو د واکدارانو خوښ دی. دوی دغرب صنعت ته ضرورت لری او له اسلام څخه ویریږی چی ترکیه په دې لحاظ ورته ښه ده. دوی ایران ته داسلامی انقلاب په خاطر زړه نه ښه کوی او هم غربی ټکنالوجی دایران له لاری نشی ترلاسه کولای نو ځکه دوی په هر لحاظ ترکیه تر ایران ښه ګڼی. خو ترکیه مرکزی آسیا ته یکی یوه لنډه لار لری چی له ارمنستانه تیریږی. ارمنستان یو غیر مسلمان، غیر ترک نژاد او د ترکیې دښمن هیواد. ددی لپاره چی د ترکیې لاس له مرکزی آسیا څخه لنډ کړی ایران دخپلو اسلامی اصولو پر خلاف دهمدی اقتصادی ګټو لپاره د غیر مسلمان ارمنستان ملګری او دخپل مسلمان او شیعه اذربایجان په مقابل کی یې تقویه کوی. په دې ډول ایران نه پریږدی چی ترکیه د ارمنستان له لاری مرکزی آسیا ته لار پیدا کړی.

همدا راز ایران له پاکستان سره هم د مرکزی آسیا بازارو ته د رسیدو پرسر شدید رقابت لری. دمرکزی آسیا هیوادونه یې له اذربایجانه ټول سنی مسلمانان دی. دوی نه یوازی دمذهب له لحاظه بلکی د ایران دمذهب دصدور له ویری هم په پاکستان خوښ دی. پاکستان د دوی لپاره بحر ته تر ټولو نږدې لاره ده.

پاکستان په تخنیکی فهم کی له ایرانه مخته او څرنګه چی غریب او پر نفوسه هیواد دی کولای شی له ایرانه ښه او ارزانه مال دمرکزی آسیا خلکو ته وړاندی کړی. خو د پاکستان ستونزه هم لکه دترکیې داده چی مرکزی آسیا ته یوازی یوه لاره لری او هغه له افغانستانه تیریږي ایران د دې لپاره چی مرکزي اسیا ته د پاکستان لاره قطع کړی یا باید په افغانستان کی خپل ګوډاګی حکومت ولری او یا په افغانستان کی جنګ وی چی پاکستان ونکړای شی په آرامی مرکزی آسیاته ولاړشی. همدا سبب دی چی په افغانستان کی دموجوده بحران او کړکیچ زیاته برخه د ایران د غرضو مداخلو نتیجه ده.

پاکستان زموږ بل ګاونډی هیواد دی چی له خپل پیدایښت څخه تر اوسه د پښتونستان دمسئلی پر سر له افغانستان څخه په تشویش کی دی. دغه هیواد تل په افغانستان کی د پښتنو اقتدار ته په کرکه کتلی دی. دجهاد په دوران کی یې پردی موضوع ډیر کار وکړ او د ربانی داقلیت دحکومت دمنځته راتلو ملاتړ یې په همدی وجه وکړ. دغه وجه وه چی د ربانی په طرفداری یې په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ میلادي کلونو کی پر ټولو تنظیمونو خصوصاً پر حکمتیار فشار اچاوه چی له ربانی سره لار یوسی. خو پاکستان هغه وخت له ربانی او مسعود څخه مأیوسه شو چی هغو دمرکزی آسیا د بازارونو پرسر دپاکستان پر ځای دخپل ژبنی ملګری (ایران) خوا ونیوله او د تیلوا وغاز د پایپ لاینو نوله تیریدو سره یې د پاکستان پر ځای د ایران له لاری موافقه وکړه او په دې ډول یې داافغانستان او پاکستان دواړو ګټې تر ایران جار کړی. که څه هم وروسته پاکستان پر ربانی باندی د فشار په منظور بیرته حکمتیار او حتی ظاهرشاه ته لاس واچاوه خو ربانی او مسعود دایران تر ګټیو تیر نشول او برعکس دایران له سیمه ییزو ملګرو (روس او هندوستان) سره چی دپاکستان سر سخت دښمنان دی نور هم نږدی شول او دپاکستان پرضد یې هغه څه وکړل چی هیڅ توقع یې ورڅخه نه کوله پاکستان وروسته له دغو ترخو تجربو اوس ښایی فکر کوی چی په افغانستان کی د پښتنو له اقتدار سره دمخالفت پر ځای له پښتنو سره چی دهیواد اکثریت دی ښه روابط ساتل ددوی په ګټه دی.

افغانستان له بیلو، بیلو قومونو څخه جوړ دی چی یې له پښتنو څخه دنورو قومونو دثقل مرکز له افغانستان بهر دی. مثلاً د افغانستان دتاجکو دثقل مرکز افغانستان نه بلکی تاجکستان، د ازبکو ازبکستان، دترکمنو ترکمنستان، دهزاره ګانو ایران او ... دی. یوازې قوم پښتون دی چی دثقل مرکز یې په افغانستان کی دی. کوم پښتانه چی پاکستان کی اوسی هغوی هلته اقلیت او دامید سترګی یې افغانستان ته نیولی دی. په دې ډول یې له پاکستانه زموږ نور ټول ګاونډیان پرته له چین څخه په افغانستان کی دخپلو قومیانو، همژبو او هم مذهبو سره دحمایت په نوم او بهانه دمداخلی فکر لری.

ترکمنستان زموږ بل ګاونډی هیواد دی چی نږدی روابط ورسره ساتل یو عاجل ضرورت دی، ددی کار دوه علته دی. یو دا چی روسانو دخپل تجاوز په دوران کی دنورو اقلیتو په شان په افغانی ترکمنو کی کوم مشهور قوماندان جوړ نکړ او پایې نه کړای شوي، چی اوس یې ترکمنستان په حمایت ځان پر ګیلای. بل داچی ددی هیواد مشران دازبکستان او تاجکستان په پرتله هوښیار دی او نه غواړی چی په یوه نا پایانه جنجال کی دنورو لپاره ځان ورګډ کړی. ترکمنستان دنورو جمهوریتونو په نسبت په خپل استقلال مین او اقتصادی ودی ته متعهد دی او غواړی چی دخپلو تیلو او غازو دلویو ذخایرو را ایستلو او استثمار لپاره له غربی تکنالوجی څخه استفاده وکړی. دوی پوهیږی چی یو خوروسان ددی ذخایرو درا ایستلو توان نلری که نه پخوا به یې کړی وای او بل داچی پر روسانو بیا تکیه به ددوی استقلال ته صدمه ورسوی. ایران چی دترکمنستان مهم ګاونډی دی پر دغه هیواد فشار اچوی چی دتیلو او غاز پایپ لاینونه له افغانستان او پاکستان څخه تیر نکړی. که په افغانستان کی جنګ دایران او روس له نقشی سره سم اوږد شی بالآخره به ترکمنستان مایوسه او دایران له لاری به ولګوچی زړه یې هم نه غواړی خپله لار بحر ته وباسی. بله خبره داده چی متأسفانه امریکا یو قابل اعتماد دوست ندی. دامریکا د روابطو زیاته برخه دهغی دسرمایه داری نظام د ودی پر محور څرخی. د امریکا دولت هغه ځای ته ځی چی سرمایه داران یې ځی او که هغوی پوه شی چی د دوی سرمایی ته په ترکمنستان کی دایمی امن او اطمینان نشته له هغه څخه بیا لاس اخلی او دامریکا دولت هم شا ورګرځوی. روسان او ایرانیان د امریکا په دغی کمزوری پوه دی او داسی فضا کرار کرار پیدا کوی چی په ترکمنستان کی امریکایی سرمایه ګذاران مایوسه شی. دا دترکمنستان او امریکا په ګټه ده چی دتیلو او غازو پایپ لاینونه ژر د افغانستان او پاکستان له لاری غربی نړۍ ته تیر شی او داکار هغه وخت کیدای شی چی امریکا، ترکمنستان او پاکستان له اسلامی امارت سره یوه تفاهم ته عاجل ورسیږی او په ګډه په افغانستان کی امن ته متعهد شی. دامریکایانو د ذهنیت په تغییر کی ترکمنستان ښه کردار ادا کولای شی.

هندوستان دسیمې یو بل مهم هیواد دی چی ښه روابط ورسره درلودل ضروری دی. مګر هند د پاکستان سر سخت دښمن دی او نه غواړی چی پاکستان مرکزی آسیا ته لار پیدا او ترقی وکړی. هند د روس او ایران ملګری دی چی په افغانستان کی جنګ تود وساتی. اسلامی امارت ته داسی لاری شته چی له هندوستان سره خپل روابط ښه کړی او پاکستان هم خپه نشی.

چین زموږ یو بل مهم ګاونډی او دملګرو ملتو دایمی غړی دی. هغه زموږ سره تل ښه روابط درلود لی دی او اوس یې هم غواړی. خو اوس له هغه سره دخپلو مسلمانانو د آزادی ویره ده او خرخښه لری چی مبادا دافغانستان اسلامی امارت او په مرکزی آسیا کی اسلامی خوځښتونه د دوی دخاوری دتمامیت لپاره مضر تمام شی. ددی خرخښی دازالی لپاره جدی کار په کار دی.

له غربو خصوصاً له سعودی عربستان سره نږدی اړیکی ساتل دافغانستان په مادی، سیاسی او معنوی ګټه دی. هغه یوښه ای هیواد دی چی له موږ سره ډیره مرسته کولای شی په سیاسی لحاظ په اسلامی هیوادو او اسلامی کنفرانس کی لوی اثر لری او دغرب په قناعت کی هم مهم کردار اداکولای شی. په معنوی لحاظ حو دحرمینو شریفینو ځای او زموږ دمسلمان ولس داحترام خاوره ده باید هوښیار او سوچی دغربو او غربیانو ګټی تر یوه حده سره شریکی دی او ترخوږ ګوتی یې ونه نیسو. داسامه بن لادن پرسر له سعودی عربستان سره داسلامی امارت اوسنی ستونزی ته باید دحل یوه لار عاجل پیداشی ځکه اوس اسلامی امارت نه یوازی دجنګ له داخلی جبهې سره مخامخ دی بلکی له یوې قوی بین المللی جبهې سره هم لاس او ګریوان دی. دا کړی ماتول پکار دی. ځکه ربانی چی دناستی ځای نلری او ډله یې په خپل منځ کی سره ویشلی او مخالفه ده او په سیمه کی یې چور او دقوماندانانو له لاسه یې دچا حیا او ناموس خوندی ندی، نن په ټولو بین المللی محافلو کی دافغانستان نمایندګی کوی. خو اسلامی امارت چی له شکه پرته د یوه دولت ټول شرایط لری څوک یې په رسمیت نه پیژنی. دی موضوع ته جدی توجه په کار ده یوه لار یې ممکن داوی چی داسلامی کنفرانس له خوا شرعی محکمه جوړه شی چی په هغی کی داسلامی امارت او سعودی عربستان په خوښه قاضیان وی. اسامه بن لادن دې په هغې کی دقانونی وکیل له لاری دعوه مخته یوسی. داکار به اوسنی خطرناک زهرجن حالت ختم کړی. دعوه ممکن کلونه ونیسی وکتل شی چی بیا څه کیږی. پاتې لري

متصدي صفحه : محمد رفیق "عزت"

د شعر او ادب نړۍ

درخت دوستي بنشان که کام دل ببار آرد
نهال دشمني برکن که رنج بیشمار آرد

وطني دودی

فاروق

لویه خـــدایه راکــــړی وطني دودی
وکــــره بزګـــــره غنم وکــــره
ستـــا دلاس تیـــاکـــو کي عزت ویشم
ټول جهـــــان په ګیــــده مزدوری کوی
نه به کـــړي غـــــلا هغــه وګــــړی څوک
داچي خــــپل هیـــــواد څوک په توپو ولي
ټوله خــــپلواکي د هغـــــو خلکو ده
وران شـــــوای «فــــاروقـــه» داوطن په دی

ډیره قـــیــــمــــتي ده د پردي دودی
نه خورمه بیـــانه خورم پرنګي دودی
پت ، شـــرف مي ولاړ په خــارجي دودی
هر ســــړی مـحــتــاج دغنمي دودی
خوري چي همــیــشه دخپل پټي دودی
واړه مـــجـــبـــورکـــړي غـــلامي دودی
چاچي ده کـــــرلي جنتي دودی
راغله چي مـــوکـــــورته دا ســـوالي دودی

یون لیک : لوړې او ژوري (۲)

طبیب محمد نذیر «احمدزي»

له کابل څخه کندهار ته دتګ په هیله مي په یوه لوی کوچ پاسرویس موټر کي ځای ونیو ، په موټر کي څه ناڅه پنځوس تنه سپرلي نور هم وه . هغه مهال دکابل کندهار اډه د پروان مینی په دوهمه برخه کي وه ځکه چي دمیوند جاده دملیشو ترمنځ دخپل منځي جګړو ستر مورچل او سیمه وه موټر دمسعود دملیشو له وروستي تلاشي څخه چي په کوزه ارغندی کي وه تیر شوو په بره ارغندی کي دطالبانو لمړی مورچل د یوه ستر کمره ترڅنګ وه ، د دواړو کرښو ترمنځ دسړک په ښي اړخ کي یوه لویه کنده وه کله چي زموږ دسپرلي موټر هلته ورسیده دوه توپک لرونکي تنکي زلمیان چي دکمبسونو لمنی یې پڅ پرتاګه کي ننویستلي او چانتي يې تینګي تړلي وي ناڅاپه له کندي را پورته او پر سړک مخامخ په داسي حال کي چي د کلاشینکوفونو خولي یې موټر ته نیولي وي دموټر مخي ته ودریدل ، موټر چلوونکی له ویري کلک برک ونیو او موټر ځای پر ځای تم شو زه او نوره سپرلي چي کله دهغوی په تکل پوه شوونو دخپلو جیبونو په غم کي شوو ما خپلي پیسي دچوکي دڅنګ په یوه درز کي ننویستي او براځي دوه دوه نیم زره افغاني مي په جیب کي پریښودي . غله یو تن کلاشینګوف په لاس مخامخ موټرته ودرید او ګیټ یې کش کړ بل تن موټر ته را پورته شو له لمړی سیټ څخه یې پیل وکړ دهرچا په جیبونو یې لاس دننه کاوه او هرڅه یې را ویستل خپلی خلاصي غاړی ته یې اچول هغه مهال زه پوه شوم چي د کمبسونو لمنی یې دڅه لپاره په ګنډه وهلي وي ، دخلکو له لاسونو څخه که څه ساعتونه درلودل هغه یې هم خلاصول او خپل خورجین ته یې اچول تر مارا وروسته چي ورته کتل مي دڅوارلس پنځلسو کلو تنکی هلک ږ چي ویره یې لا نه وه راغلي کلاشینکوف یې په کیڼ لاس کي نیولی او په ښي لاس دخلکو جیبونه تشوی . د سترګو رپ کي ډیر سوچونه راته پیداشول دجهاد ستونزي ، دهجرت ناخوالي ، دشهیدانو ارمانونه دکونډو او یتیمانو اوښکي او وروستي پایله یې غلا ... او داهم دبې کفایته مشرانو له لاسه ددي پر ځای چي دغه تنکي هلک زده کړه کړی وی او دکمونیستانو په لاس دوران شوی هیواد دکنډوالو په بیا ودانولو کي یې برخه اخیستي وی په ډیره بې شرمي او بې پروایي یې په شوکماري لاس پوري کړی ږ ، همدغه آن داسوچ هم راته پیداشو چي توپک ترینه تاو کړم خو چي لاندي ولاړ هلک ته مي وکتل ګوته په ماشه ولاړ ږ او دډیری کوچني لانجي په لیدو سره یې خامخا په موټر ګولي چلولي نو ځان ته مي قناعت ورکړ چي «مال له سره ځار » که خدای مه کړه لاندي ولاړ هلک څه ګواښ احساس کړی نوپه یوه شاجور سره کیدی شي ډیر کسان په وینو ولمبوی سترګي مي ښکته واچولي زما په جیب یې لاس ننویست او څه لږ روپۍ چي پکي پاتي وی هغه یې واخیستي زماتر شا یو ښه دروند او موږ پوخ عمره سړی ناست ږ زما په انګیرنه په هغه پیسی ډیري ګراني وی کله چي غله دهغه جیبونه ولټول هیڅ یې ونه موندل بیا یې دهغه لاس وکوت که ګوري ولري خو هوښیار سړی هرڅه پټ کړی ږ کله چي غله هیڅ ونه موندل نو ناڅاپه یې یوه ټینګه څپیړه پرمخ ورکړه او ورته وی ویل داڅنګه ځواني ده چي نه پیسي لری او نه ساعت ... لنډه داچي تنکی غله دموټر ټوله سپرلي ولټوله او هرڅه چي لاس ته ورغلل هغه یې پورته کړل کله چي له موټر څخه ښکته کیده نو په غاړه کي د ډیرو پیسو او ګړیو د اچولو له امله یې غټه خیټه کړی وه . لنډه داچي هغه له موټر څخه ښکته شو او چلوونکي ته یې دتللو قومانده ورکړه موټر روان شو او دوی هم یوه شیبه وروسته بیرته هماغه کندی ته ښکته شول ، په موټر کي سپرو خلکو هر څه هرڅه ویل خو ما له ځان سره د ډیر خپګان تر څنګ د ډیر شرم احساس هم کاوه ځکه چي، ځینو سپرلیو دغه غله دجهاد پایله او سوغات باله خو زه پوهیدم چي دا پیښي چا او څرنګه وزیږولي او زموږ دسپیڅلي جهاد ژغوروونکي او بختوری پایلي دچا دخیانت له لاسه لوغړني شوی

بیرته راګرځم خپل اوسني سفرته ، میدان ښار ته ورسیدو دکابل غزني دلویې لاری دواړو خواوو ته حکومتي وداني بیا له سره جوړی او رنګ شـــــوی وی او دایې ښودله چي دلته یو څوک دهیواد دبیـــــا ودانولو په تکل کی دی او د ورانیـــو دوران تیر شوی دی . پاتي لري

تحول

ګرانه ملګریه !
ته به هم اوریدلي وي چي د پغمان خزان د پغمان د پسرلي غوندي ځانته یوه مخصوصه ښکلي ننداره لري زه دهمدي ننداري د لیدو لپاره هغه بله ورځ دځو تنو ملګرو سره پغمان ته لاړم - رښتیا چي ډیره ښایسته منظره وه د غونډي له سره چي موږ دی منظري ته کتل - ددري په منځ کي - دچنارو دطلايي پاڼو ربا دا باسين د مازیګر تو څپو دڅا په شان دښکلا یو طوفان راوستي ږ - یه سره سا ددی ښکلا په یو په غیږ کي دځینو ونو ارغواني رنګ داسي ښکاریده چي تا به ویل د مازدیګر دلمر ژړو ورانګو د ګودر په اوبو کي دکومي مستي پیغلي سور سالو په غیږ کي نیولي دی او دا لنډۍ زړه ته راتله :
پر ګودر سور سالو ښکاره شو
ماوی دي تورو اوبو او رواخیست مینه

دی ښکلي منظري داثابتوله چي طبیعي ښکلا یوازي د پسرلي دګلونو په برخه نده بلکي خزان وهلی پاڼي هم ځانته یو ښکلي خزاني پسرلی لري - عبدالقادر خټک د پښتوژبي خوږ ژبی شاعر څنګه ښه وايي :

زه چي هسي په خپل ځان باندي مین یم
دهاتا ځ دي په جانان باندي مین یم
دخزان میوه بهار دبهار دی دی
تربهاره په خزان باندي مین یم

رښتیا هم که دا تحویل او تبدیل په کاینا تو کي نه وای نو دقدرت او طبیعت دواکمني دا رنګارنګ مظاهر به هم نه لیدل کیده او دقدرتي او طبیعي مظاهرو ښتوالي خو دکاینا تو دسکون ، جمود او خمود معنی درلودله چي هغه خو دقدرت دقانون اقتضا نده . هو ، په طبیعت کي دهمیشه لپاره یو نواختي د طبیعي حرکت او حقیقي ژوند داصل په خلاف ښکاري - نو ځکه کله پسرلي ، کله دوبی ، کله خزان کله ژمی ، کله ژوند ، کله مړینه ، اونور څه وی .

همداراز ملتونه او انسانان په خپل ژوند کي پسرلي او خزان لري کله دمځکي پر سر باداري کوی - او کله بې دغلامانو غوندي تیټ ژوند په برخه وي - خو افسوس دهغو ملتو او انسانانو پر ژوند چي ځانونه یې له دي طبیعي قانون څخه د باندي فرض کړی او دغړونو دکاڼو په څیر یې دجمود او خمود حال غوره کړی وی .

په : غلط شوه دغړونو کاڼي هم کله کله د طبیعي عواملو له کبله پر یوه حال نه پاتیږی - د سیلاب سره را رغړی ، رنګ او شکل یې بدلیږی . موږ چي څو کاله پخوا د پغمان دره لیدلي وه او سرکال مو ولیدله په کاڼو ، بوټو کي یې هم ډیر تغییر راغلي ږ او داڅو د یوه طبیعي طوفان په اثر دغره لوی لوی کاڼي له ځایه بې ځایه شوی او ددري ښکلي ګلونه او حسني لوبي لوبي ونې بې ترسیني لاندي کړی وی - او دری ته یې د طبیعي تحویل یوه بله جامه ور اغوستې وه .

هو - د دري کـــاڼو ، بوټو تحــول موندلي ږ - خو کوم څه چي زموږ په شان یې تحوله پاتي ږ - هغه دهغو ګلونو او ونو ، باغوان ږ - چي همغه دڅو کالو پخوا غوندي له ځان او له جهانه ناخبره ، دلتیې لمر ته پروت ږ - او خره ورته څریدل - موږ چي هم دده په شان لیان وو ، نو د ده غوندي لټ لټ وغځیدلو او ترڅو دقیقو وروسته ځان او جهان راڅخه هیر شو :

نو ګرانه ملګریه !اوس ته راته ووایه دانه تحویل ښه دی که بد ؟او دا دلتیې دخوب نتیجه به څه وی ؟ پوهیږم چي ته به ضرور زما او ستا دتسلي لپاره بیا د رحمان بابا دابیت راته ووایې چي :

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را باندي راشي که بهار

خو په دی عصر کي پدی منطق قانع کیدل او یا دچا قانع کول هم مشکل کار ښکاري !

کابله

احمد ضیا « مخلص »

وربه دی تکړم په پاریس او امریکا کابله
زه دمجنون ته مي لیلا کابله
په مادی سمه او غرګران کابله
ستا په سپرو خرو کوڅو نازیږم
که کنډواله او که دی وران کابله
درته چاپیر په تورو غرو نازیږم
ستا ټول ازغي ماته ګلان دي ګله
ستا په بې شمیره منظرو نازیږم
ته مي آرام ته مي سکون ته مي بې ساه کابله
زما دی زړه وړی ښکلا کابله
دستا په غیږ کي تاریخونه پراته
په سر دي بل درته اورونه کړل چا
دهر غلیم درکي هډونه پراته
درته یې پورته تور دودونه کړل چا
دسور ښامار چنګیز سرونه پراته
وران او ویجاړ دی جوړ کورونه کړل چا
قربانوم زه سر له تا کابله
پټ درته بد ږ نیت دچا کابله
چي مي نظر دتا په لور شو ګرانه
په پردي ملک به چمنونه څه کړم
درته مي بل په سترګو اور شو ګرانه
له ښیښو جوړ په محلونه څه کړم
هم په سینه کي مي جوړ شور شو ګرانه
جوړ په هر ځای به یې سیلونه څه کړم
رواني اوښکي شوی زما کابله
ژوندون مي ګران دی یې له تا کابله
«مخلص» په هیله د وصال کي وسو
تاته د ډوب فکر په تال کي وسو
ستا دفراق په سوی حال کي وسو
څه وخت به درشي ستا تودي غيږي ته بيا کابله

د پښتو متفقه لیکدود

نورالله «شملزاني»

لکه د نورو ژبو په شان دوخت دغوښتنو له مخي پښتو لیکدود هم وخت په وخت بدلون نه بیدلی او په نتیجه کي یوه معیار ته را رسیدلي دی ، دکال ۱۹۹۰ په جولای کي د پښتو اکیډمي د پښتو لیکدود دیو کولو لپاره یو سیمینار جوړ کړ ، چي تر ډیره حده معیاري لیکدود پکي ومنل شو او ځیني هغه کلمي او توري چي سره بیل بیل لیکل کیدل یو ډول شول چي دلته یې په لنډ ډول لیکو :

۱- « ن » به د « ڼ » په ځای نه لیکل کیږی .
۲- هغه کلمي چي په پای کي زور لري دزور دنخښي پر ځای به « ه » ورکوله کیږی .
۳- د پښتو په خپلو کلمو کي به دمد الف(آ) نه راځي لکه : اس به آس نه لیکل کیږی .
٤- مخصوصه « ی » یاسپکه « ي » چي دوه لاندي ټکي لري ، لکه ډېر ، زېږی ، هېر ، شمېر ، کېدل ، بېل ، شېې ، تودې ، سړې ، اوردې او داسي نور .
٥- معروفي « ی » ته به دوه څنګ پر څنګ ټکي ورکوی لکه : یو ، یار ، لیک ځاني ، غوري ، سړي اوداسي نور .
٦- د تأنیث (ی) به په کش لیکله کیږی ، لکه : خولی ، څوکی ، ډوډی ، سپوږمی ، اوداسي نور .
۷- فعلي ثقیله (ئ) به همزه لری لکه : خورئ ، ځئ حساب مه مئ !
۸- ضمیر به د (یې) په بڼه لیکل کیږی لکه : ښه کار یې وکړ .
۹- د زورکي ښکارندویه (ه) به د پاسه همزه (ۀ) ولري ، لکه : زړۀ (قلب) چي له زور لرونکي مؤنثي کلمي سره فرق پیداکړی هغه لکه : (زړه) مونث ده . لکه چي وایو : زما زړۀ زړه خبره نه مني .
۱۰- ګاف به په کړی (ک) لیکل کیږی نه په کش (ګ) .
۱۱- کښي ، کښیناستل ، بخښل ،نخښه ، کښیښودل ، او داسي نور به په همدی ډول لیکل کیږی ،نه : کیناستل ببل ، نښه ، او کینبودل .
۱۲- معدوله واو به له کلمو څخه نه غورځول کیږی ، لکه خولۀ ، خوله ، غونډ ، کونډه ، ګونډ .
۱۳- معروف واو به له کلمو څخه نه غورځول کیږی لکه : زرغون به زرغن نه لیکو .
۱٤- پښتو پیښ لرونکي کلمي به په مجهول واو لیکل کیږی لکه : اوره ، پوښتنه ، پوهنه اور ، اوبه ، اوداسي نور .
۱٥- د پښتو خاص توري لکه ځ ، څ ، ښ ، ږ ، به په خپل ځای لیکل کیږی . لکه : څوک (کې) به سوک (مشت) نه لیکل کیږی او داسي نور .
۱٦- ملینه « ی » یا یې تکو « ی » چي (په متفقه لیکدود کي مجهوله « ی » بلل شوی) : په افغانستان او بلوچستان کي په همغه ډول « ی » لیکله کیږی خو په صوبه سرحد کي به له دود سره سم « ی » په اوږده (ے) بڼه لیکله کیږی او په دی ډول به دی پریکړو کي دا یوازیني توری په اختلافي توګه پاتي شو !
۱۷- پښتو ته دعربي او نورو ژبو هغه راغلي کلمي چي معنی یې نه وی بدله شوی په همغه بڼه لیکل کیږی لکه : قلم ، کاغذ ، علم ، او نور .

دا هغه منل شوی لیکدود ږ چي په کال ۱۹۹۰ جولای کي پښتو اکیډمي یو سیمینار جوړ کړی ږ او دغه طریقې پکي ومنل شوی .

د نوبل د وصیت یو څو ټکي

زما په مال دولت کي باید داسي تصرفات وشي :
اصلي پانګه دي ښه باوري ځای په کار واچول شي او ګټه دي په کلني ډول هغو کسانو ته دجایزې په توګه ورکړل شي چي د بشریت لپاره یې تر ټولو ستر - ستر خدمتونه سرته رسولي وی . دابایې په پنځو مساوي برخو وویشل شي : یوه برخه هغه کس ته چي دفزیک په برخه کي یې لوی پرمختګ او نوښت کړی وی . بله برخه هغه ته چي په کیمیا کي یې ورته څه ترلاسه کړي وی ، بله هغه ته چي په طب کي یې کومه ښه موندنه کړي وي ، بله په ادب کي اوبله هغه چاته چي دسولي او ثبات لپاره یې غټه هڅه او دیرګو ترمنځ یې دجګړي مخنیوي لپاره کار کړي وی .
پورتني جایزې د لوڅکي تونیوه پرتیه جوازي او بوازي داهلیت پداساس ورکول شي که څه هغه کس د سکندیناویا نه وي .

سپیده ها

«اسد مجبور»

طلسم فاجعه بشکست
شب سیاه وداع گفت
پیام عشق ومحبت بدست سبزه رسید
نوید باران شد
سپیده ها به سرشاخه های ناجوها
امید انسان شد
گل امید شگفت
دعا به عرش حقیقت رسید اسان شد
زمین زفیض گل شکوفه برف
رفیق دهقان شد
دهقان
بجای خش خش وتریاق زرع کن گندم
که افتخار دو کون است خدمت مردم

قاصد فرور دین

عبدالله خادم

قـــاصـــد روح بخش فـــرور دین
چون مـــسیـــحا بباغ می آید
از دم جـــان فـــزای او خـــرم
گـلـشـن وبـاغ وراغ مـی آید
غنچـه می خندد از قـدوم صبـا
بلبلش در ســـراغ مـی آید
گلبن وگل نگریـه صـحن چمن
لعـــبـــتـــی باچراغ می آید
صـــبـــحگاهان زطرف دشت ودمن
بوی خـــوش در دمـــاغ می آید
دخت صـحـرا کـه لاله اش نامند
جلوه گـــر بـــا ایـاغ مـی آید
لالـه ســـان استـای خـادم
ســـخن از روی داغ مـی آید

نامهء وارده

قابل توجه وزارت محتـرم صحت عامه و مقام محترم شاروالي کابل!

به اداره، محترم جریده، شریعت!

اخیراً از طریق جریده، شریعت گزارشي به دست نشر سپرده شده که از پیدا شدن سگ دیوانه در نو آباد قلعه، زمانخان که تقریباً ۱۲ نفر را زخمي نموده بود، اطلاع میداد. عین همین واقعـه روز شنبـه ٤ حمل ۱۳۸۰ در مکروریان سوم و به صورت مشخص در مقابل بلاک ۱۳ همین مکروریان به وقـوع پیـوست. سگ دیوانه یي در محل پدیدار گشت و چندین طفل را به صورت سطحي و عمیق زخمي نمود.

والدین اطفال زخمي خویش را سراسیمه به شفاخانه انتقال دادند. ایشان گذشته از آنکه از عدم توجه مسو لین شفاخانه به مریض هاي شان شاکي بودند، متاسفانه از عدم موجودیت واکسین سگ دیوانه نیز شکایت داشتند.

در همین ارتباط میخواهم دو پیشنهاد مشخص عنواني وزارت محترم صحت عامه، امارت اسلامي افغانستان و مقام محترم شاروالي کابل ارائه دارم.

پیشنهاد نخست اینکه مسو لین بخش صحت محیطي شاروالي کابل به همکاري طب وقایوي وزارت صحت عامه بخاطر تأمین صحت شهروندان باید تمام سگهاي ولگرد را در نواحي مختلف شهر مانند سال قبل از بین ببرند، زیرا موجودیت سگهاي ولگرد خود زمینه یي است براي به وجود آمدن سگ دیوانه.

پیشنهاد دوم اینکه : مسو لین طب وقایوي صحت عامه با موسسات بین المللي از جمله یونیسف و سازمان صحي جهان(WHO) در تماس شوند و از ایشان بخواهند که واکسین سگ دیوانه را مانند سایر واکسین ها در اختیار صحت عامه قرار بدهند تا در موقع ضرورت به زود ترین فرصت از آن استفاده شود.

نکته، دیگري را که با اغتنام از فرصت میخواهم به مسو لین محترم حفظ الصحه محیطي شاروالي کابل یاد آور شوم این است که در هر نقطه شهر از جمله مکروریان ها تجمع کثافات فوق العاده زیاد شده است که اگر همین حالا که هنوز هوا گرم نشده است و مکروب هاي ساري فعال نگردیده اند ، کثافات مذکور از مناطق مسکوني دور ساخته نشوند، شاهد واقعات دلخراش مریضي هاي ساري در ایام گرما در شهر خداي نخواسته خواهیم بود.

شاروالي کابل و صحت عامه به کمك موسسات بین المللي میتوانند بر اساس پروگرامهاي مشخص همکاري خانواده ها را جلب نمایند تا در تنظیف سرسبزي و سایر خدمات شهري و محیطي کار هاي مهم و قابل توجه یي انجام بگیرد. و بدین صورت خانواده ها بتوانند در فعالیتهاي مربوط امور شهر و مسکن با شاروالي و صحت عامه نقش ارزنده ایفا کنند و به اثر همکاري متقابل مشکلات محیطي خویش را حل نمایند.

و من الله التوفیق
پوهیالي لیلما «یما»
کابل، مکروریان سوم
۱۳۸۰/۱/۱۰

اعلانات

قدرالدین فرزند روزالدین یك باب سقاوه ملکیت بانك رهني وتعمیراتي واقع کارته مامورین را ماهانه مبلغ چهارصدو پنجا هزار افغاني براي مدت یکسال به کرایه میگیرد .

مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت تعمیرات بانك رهني وتعمیراتي بسپارند وخود شان از تاریخ ۳-۱- ۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانندتضمین اخذ میگردد .

* * *

نور احمد فرزند فیض محمد به مساحت دو جریب زمین متروکه غریب الله واقع قریه سراباب را في جریب مبلغ یك ملیون افغاني در سال ۱٤۲۲ به اجاره میگیرد .

مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت املاك ولسوالي چاراسیاب بسپارند وخود شان از تاریخ ۳-۱-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .

* * *

سید حسن فرزند سید حسن علي مالك رحیم عمر درملتون ،کابل درملتون ملکیت خویش را با امتیازات وملحقات آن بالاي عبدالصمد فرزند زلمي خان بفروش میرساند .اشخاص وموسساتیکه در مورد درملتون مذکور ادعا داشته باشند خود شان از تاریخ ۳-۱-۱٤۲۲ تاده روز بریاست قوانین صحي وبررسي وزارت صحت عامه کتباً اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

در اکادمي علوم

به آژانس باختر خبر داد : این کنفرانس از طرف محترم محمد صدیق افغان بنیان گذار ریاضي فلسفي جهان و رئیس مرکز علوم ریاضي ، فزیکي و تخنیك اکادمي علوم و به اشتراك محترم مولوي خلیل الله فیروزي رئیس اکادمي علوم ، دانشمندان آن اداره استادان پوهنتون و جمع از علماي کرام دایر گردیده و محترم محمد صدیق افغان جدول را که در آن ارقام و اعداد آیت الکرسي شریف از دیدگاه ریاضي فلسفي تهیه نموده بود به حاضرین توضیح و تشریح نموده و در جدول متذکره دوتریلیون و یکصدو چهار بلیون و نود و هشت ملیون و نهصد و شصت و سه هزار و هفت صدو بیست مرتبه آیت الکرسي شریف را قرائت نمود و به سوالات دانشمندان در زمینه پاسخ ارائه داشت. کنفرانس توسط هیأت رئیسه اکادمي مثبت ارزیابي گردید. کنفرانس با قرائت دعائیه توسط محترم مولوي شجاع الدین خدام معاون اکادمي علوم خاتمه یافت.

طي جلسه وضعیت

احمد اله مطیع وزیر فواید عامه، محترم ملا سعد الدین سعید وزیر پلان، محترم قاري احمد الله رئیس عمومي استخبارات ، محترم ملا عبدالرحمن زاهد معین وزارت امور خارجه و محترم مولوي عبدالعزیز نصیر رئیس عمومي حمل و نقل تدویر یافته بود پیرامون بهبود وضع امنیتي در کشور، بررسي چگونگي وضع مهاجرین در داخل و خارج کشور و پیشبرد-بهتر امور اداري و خدمات اجتماعي بحث همه جانبه بعمل آمد، در زمینه هاي مختلف تصامیم مقتضي اتخاذ گردید توجه خاص مسو لین امور درین مورد معطوف گردید.

دراین جلسه روي پاره از مسایل تجارتي ، تعلیمي، صحي و امور پلانگذاري با در نظر داشت استقامت هاي کاري و راستا هاي مشخص آن غور و مداقه صورت گرفته معیار ها و موازین علمي مبتني بر تطبیق اهداف علیاي امارت اسلامي افغانستان مشخص گردید.

مظاهرات ضد ...

ساحل غربي و نوار غزه راه اندازي گردید بزرگترین مظاهرات مجاهدین درما هاي اخیر خوانده شده است پنج تن از شهدا از شهر نابلوس و یك تن از ساحل غربي بودند این مظاهرات پس از آن شدت گرفت که اشغالگران صهیونست از ورود مجاهدین فلسطیني به نوار غزه و ساحل غربي جلوگیري بعمل آورد.

مظاهرات در خود اسرائیل از طرف اعراب مقیم آنها اعتراض علیه ادامه اشغال سر زمینهاي عربي از طرف صهیونستها نیز براه انداخته شد.

محفل ادبي مشاعره...

ملا امیر خان متقي وزیر معارف، محترم مولوي رحیم الله زرمتي معین نشراتي و محترم مولوي عبدالباقي حقاني معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور، محترم ملا محمد اسحق نظامي رئیس عمومي رادیو صداي شریعت و تعداد زیادي از علاقمندان شعر و ادب نیز اشتراك ورزیده بودند. در آغاز بعد از آنکه چند آیه از کلام الله مجید تلاوت گردید محترم مولوي عبدالباقي حقاني معین کلتوري وزارت اطلاعات و کلتور در رابطه به جایگاه شعر و ادبیات اسلامي و نقش شاعر در غناي شعر و ادب کشور رسالت و مکلفیت هاي شاعران نویسنده گان و ادباي کشور در برابر نظام اسلامي و موثریت آن درتنویر و تحریك احساسات اسلامي و ملي مردم کشور ها صحبت نموده تاکید داشت که شعر سلاح میدان رزم و پیکار در برابر دشمنان اسلام میباشد. شاعران باید بر محتواي شعري شان هدف والاي امارت اسلامي افغانستان را در نظر داشته و ذریعه سروده هاي شان حقایق را به مردم و جهانیان بازگونماید. متعاقباً تعداد از شاعران اشتراك کننده اشعار و سروده هاي ادبي شانرا که بهمین مناسبت سروده بودند قرائت نمودند. در جریان محفل مشاعره ترانه هاي حماسي توسط یکتعداد ترانه خوانان خوش آواز کشور خوانده شد.

قوماندان حمید

لږی د هرې ورځی په تیرېدو سره پیاوړی کیږي او له همدې امله په دې وروستیو وختو کی د قوماندان حمید الله او قوماندان عبدالاحد د وسله والو افرادو ترمنځ د بغلان ولایت د اندراب ولسوالی په مربوطاتو کی سختی جګړی وشوی چی په نتیجه کی یې قوماندان حمید الله د خپلو یو شمیر وسله والو افرادو په ګډون وژل شویدی. د عینی شاهدانو د څرګندونو له مخی د دغو اختلافونو او جګړو اساسی انګیزه د مخالفینو په لیکو کی د کمونستو جنرالانو او د روسی سلاکارانو شته والی دی. ددغو جګړو له امله د سیمی خلک سخت زیانمن شویدی او له دغه مصیبت څخه د خلاصون په خاطر د پلخمری ولسوالی ته مهاجر شویدی.

د ملخانو یرغل ...

پخوانی بغلان ببلا بیلی سیمی پکی شاملی دی له زیان رسوونکو ملخانو څخه ډکه ده او بزګرانو او کروندګرو ته یې زیاتی ستونزی او مشکلات پیدا کړیدی. او ددغه ولایت د کرنی ریاست د فنی برخی د چارواکو لخوا له طرحه شوی پلان سره سم د بغلان ولایت د کرنی د رئیس محترم ملا شهزار سنګریار په مشری یو فنی هیأت له یوی اندازی درملو سره دغو سیمو ته تللی دی او د ملخانو پر خلاف مجادله پیل شویده

د دیجتل تیلفون ...

مونتاژ کار چی پخوا د مخابراتو وزارت له لاری پیل شوی و په سلو کی نوی پرمخ تللی دی. د مخابراتو وزارت د تیلی کمونکیشن رئیس محترم انجنیر رحمت الله د یوی مرکی په ترڅ کی وویل د دیجتل تیلفون د نمرو په ویش سره زموږ هیواد والو ته زیاتی اسانتیاوی برابریږی . ده زیاته کړه د ښاریانو د ستونزو او مشکلاتو د لری کولو په مقصد په خیرخانه، مکروریانونو ، نوی ښار او د ښار په مرکز کی د دیجتل تیلفون د دستګاه د درولو او مونتاژ کار بشپړ شویدی او اوس په پام کی لرو چی ددغه تیلفون یو خدماتی مرکز د کابل ښار د څلورمی کارتی په ساحه کی هم جوړ کړو. او په همدی مقصد د ماین پاکولو تیمونو ته بلنه ورکړ شویده چی دغه ساحه چک کړی چی د دیجتل تیلفون د دستګاه د درولو او منتاژ د کار زمینه یکی برابره شی.

د پولیسو اکادمی

پر خلاف د مبارزی لوی رئیس محترم مولوی صدیق الله الهام د کورنیو چارو وزارت د پلټنی لوی رئیس محترم عبدالستار عزیزی د پولیسو اکادمی قوماندان محترم مولوی شفیع الله مسلم یار او ددغی قوماندانی استادان هم ورسره و د آزموینی د اخیستلو بهیر وکوت. او د پولیسو اکادمی له مشرتابه هیأت او استادانو سره د خبرو په ترڅ کی یې د هغوی زیاته پاملرنه د محصلانو سالمی روزنی ته واړوله او په دی برخه کی یې ګټوری او لازمی لارښوونی وکړی.

رئیس جمهور...

که تنها از طریق مذاکرات میتوان به یك حل در شرق میانه دست یافت .

رئیس جمهور مصر در راه مسافرت به ایالات متحده امریکا وارد پاریس گردیده است قرار است وي روز دوشنبه عازم آنکشور گردد.

سلوبودان میلو...

گردیده است گفته میشود که میان این حامیان و پولیس برخورد صورت گرفته که در جریان آن چندین تن مجروح شده است .

سلو بودان میلوسوویچ رئیس جمهور سابق یوگوسلاویا به سبب نقش که در جنگ کاسووا داشت از طرف محکمه جنایات جنگي که مرکز آن در شهر لاهه هالند است تحت تعقیب قرار گرفته است .

په بی ځایه شوی...

او د کانادا د همدردی موسسی له خوا له مهاجرینو سره شویدی او دغه غنم د هرات په ولایت کی د مسلخ کمپ په یو شمیر اوسیدونکو باندی ویشل شویدی.

له ایران سره د هلمند اوبو په هکله ...

حقایقو سره د هغه د محتوا د متضاد والی په علت په پام کی ونه نیول شو ځکه له زیاتی مودی را پدیخوا دا د ایرانیانو عادت دی کله چی د وچکالی له امله دغه شان ستونزه پیدا شویده هغوی په دغه شان نارو سورو لاس پوری کړیدی. د افغانستان اسلامی امارت په وار وار له ایرانی مقاماتو سره په لیدنو کتنو کی دا ټکی څرګند کړیدی چی د دواړو هیوادونو ترمنځ د هلمند د سیند د اوبو په باب د ۱۳۵۱ هجری لمریز کال تړون په بشپړه توګه محترم بولی او د هغه د هری مادی رعایتول خپله دنده ګڼی د همدی اصل له مخی کله چی تیر کال د ډیری سختی وچکالی له امله د هلمند د سیند اوبه په ایرانی لوری باندی وچی شوی او د ایران لوری د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره د یوه هیأت د را استولو غوښتنه وکړه اسلامی امارت له ګاوندیانو سره د دوستانه اړیکو له لرلو سره د علاقی په خاطر په دی کار موافقه وکړه . ایرانی هیأت افغانستان ته سفر وکړ او دغه حقیقت یی مشاهده کړ چی د ګرشک په سیمه کی د هلمند په سیند کی اوبه روانی نه وی د هلمند د سیند یو مهم مرستیال ارغنداب وچ شوی او د دهلی په بند کی چی د ارغنداب د سیند پر مخ جوړ شویدی یو څاڅکی اوبه موجودی نه وی د هلمند د سیند بل مرستیال د تری سیند هم اوبه نلرلی. له دی امله د فورس ماژور حالت چی د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند د سیند د اوبو په باب د ۱۳۵۱ هجری لمریز کال په تړون کی ورته اشاره شویده موجود و . ایرانی هیأت په موجودو او غیر دقیقو وسایلو سره د هراوود په سیمه کی د اوبو اندازه په یوه ثانیه کی څلور زره شپږ سوه اتلس مکعب متره تثبیت کړه که چیری همدغه غیر دقیقه اندازه هم قبوله کړو د فوق العاده وچکالی څرګندوی ده . پداسی شرایطو کی د هلمند د سیند د سرچینی د سیمو خلک د وچکالی له امله نورو سیمو ته مهاجرت ته اړ شویدی او نړیوال هم خبر دی چی په سلګونو تنه دغه مهاجرین د ورو ستی ژمی د سړښت له امله د هرات ولایت په اړوندو کمپونو کی په حق ورسیدل چی دغه حالت په ډاګه د فوق العاده وچکالی څرګندوی دی. د نننی میاشتنی تکنالوژی پرمختګ د هر راز پټونی امکان له منځه وړیدی او داچی ایران ادعا کوی چی موږ په قصدی ډول اوبه په ایران باندی بندی کړیدی له درواغجنی ادعا پرته بل څه ندی ځکه له هغو اوبو څخه چی د ایران په لور بهیږی د افغانستان د نیمروز ولایت هم خړوبیږی. او داسی منطق نشته چی موږ په خپلو خلکو باندی هم اوبه بندی کړو.

تیر کال د افغانستان د نیمروز خلک هم په ایران کی د زابل د خلکو په کڅ مټ مشکل مخامخ و .

په پای کی د یادونی وړ بولو چی د دواړو هیوادونو ترمنځ د ۱۳۵۱ هجری لمریز کال د تړون له مخی د دواړو ګاوندیو هیوادونو ترمنځ د ښه نیت د ښبی ښانی په توګه په یوه ثانیه کی څلور مکعب متره اوبه ایران ته په پام کی نیول شویدی او داچی ایران په دغه شان پلمو لاس پوری کوی او د ملګرو ملتو او امریکا سره جوخت د افغانستان په خلکو باندی د فشار اچولو قصد لری د افغانستان د خلکو په نسبت د ایران د هیواد د ښه نیت نښه نښانه نده.

د مخالفینو په ...

پردی یی د شمال د تش په نامه ائتلاف د مشرانو ترمنځ نوی درز رامنځته کړیدی. دعینی شاهدانو د څرګندونو له مخی استاد سیاف ربانی او جنرال فهیم له یو بل سره نږدی شویدی چی د مسعود پرخلاف یو بل ائتلاف جوړ کړي او مسعود تل ددغه نوی ائتلاف د له منځه وړلو په لټه کی دی. دغه مساله که چیری له یوی خوا د مسعود اصلی څیره چی له روسیی او له کمونستو جنرالانو سره په ملګرتیا کی دی بربنډوی له بلی خوا د شمال د تش په نامه اتحاد خپل منځی اختلافونه څرګندوی.

په عراق کي ...

کی د امریکا او انګلستان پر خلاف پراخی مظاهری وشوی چی د هغوی جنګی الوتکی د عراق دپاسه ګزمی کوی .

در بغلان سنگ ...

بیان داشته و از مسئولین امور و مردم تقاضا نمود که با خلوص نیت و همکاري همه جانبه در قسمت آبادي کشور تلاش ورزند. سپس سنگ تهداب پل و سر بند نهر قبارق توسط محترم معاون ولایت بغلان گذاشته شده و کار اعمار آن آغاز گردید .

توجه

درنو ګډونکوونکو! که شریعت اوونیزه نه در رسیږي او یا ناوخته رسیږي نو په : ۶۲۸۵۹- ۶۲۸۶۷ شمیرو تیلفوني تماس ونیسی . اداره

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press